# د انقلابي شاعر معزالله نګار ژوند او جدوجهد

محمد ابراهيم بېنوا

عاقبت به د اجل په مخکښې راشي
پېوسته به مدام نۀ وي تار د عمر

معزالله مرحوم چې د تنګي بره زی، ملاخېلو ضلع چارسدې اشنغر او سپدونکے يو لوئے اديب او انقلابي شاعر ؤ. د پلار نوم ئې شاه نواز خان ؤ. انقلاب حساس شخصيت غواړي او دې سره شعور او جذبه هم نو دا ټول صفات په معزالله نګار کښې موجود وو ځکه ئې د فخر افغان باچاخان نه لاس نيوه کړې وه. خان عبدالغفار خان (باچاخان) سره ئې په دې لاره ډېرې هلې ځلې کړې دي. دا په هغې وخت کښې ډېر ګران وو ځکه چې يو خوا د پېرنګي مقابله نو بل خوا د پېرنګي د تالي څټو مقابله کول وو. ځکه چې پېرنګيانو مونږ ته خپل کور کښې دښمن پېدا کړے ؤ دلته جاګيرداره نظام او د شتمنو خلقو نه قام هېر ؤ او په ټولو د پېسې نشه سوره وه او په داسې وخت کښې چا د خپل ورور مرسته هم نۀ کوله.

خو خېر! معزالله نګار مايوسه نۀ شو او خپل جدوجهد ته ئې ډېره وده ورکړه د هغۀ يو شعر دے:

اوښکې هغه وې چې د بل په غم کښې تويې شولې
چې په خپل غم ئې تويوي هغه څۀ اوښکې نۀ وي

ښاغلي معزالله نګار خدائے بخښلي د هرې پور جبل کښې هم شکست ونۀ منلو او په جبل کښې ئې هم ډېر اشعار وليکل چې د ستائينې وړ دي، د داسې خلقو نوم تل ترتله ژوندے وي کۀ اغيار ډېر زورور وو او د هغوي مرستيال هم ډېر وو ولې داسې جانبازان نه ويرېدل ولې د ناکامۍ سبب ئې دا نۀ ؤ چې ګني هغوي همت بائلو خو دوي په خپل مقصد کښې کامياب نۀ شول د هغې وجه دا وه چې د قام مرسته ورته پوره حاصله نۀ شوه، د قام رنګ څۀ داسې دے:

يا خو د تشې خُلې پښتو پرېږده
يا خو دا نوم د پښتنو پرېږده

معزالله نګار نور ټول په ټول پوره ؤ ولې د غربت په وجه د هغۀ شعرونه پښتونخوا کښې خوارۀ نۀ شول، ولې نن د هغۀ د ملګرو په وجه په پښتونخوا کښې مقبول وګرځېدو، کتاب ئې چاپ شو او اوس په پښتونخوا کښې د نګار صېب شعرونه شهرت لري او د خپلې سيمې په لويو شاعرانو کښې شمار شو:

ما د وينو مشال جوړ کړو نن رڼا کوي محل کښې
آ د زړۀ زرغون ګلونه ښکاري نن د بل اوربل کښې

د دې شعر نه داسې معلومېږي چې معزالله نګار د خپل مشقت مېوه د اغيار په لاس کښې وليده او يو داسې ناپرسان ښار ئې وليدو چې خدائے بخښلي نګار صېب او نورو غازيانو نۀ غوښتو ولې نن د هغې غازيانو څوک نوم نۀ اخلي چا چې د وطن په نوم وينه تويه کړې ده.

دا خپل بحث د مفلس دراني په دې شعر پائې ته رسوم چې:

قبر کۀ ئې پرانزې والله چې سلامت به وي
خاورې څۀ طاقت لري چې دا ککرۍ خاورې کړي